AJSC
AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیته

# رسنۍ په اونۍ کې/ د ډسمبر لومړۍ اونۍ

له بلخ ولایته رپوټونه وايي چې دغلته اوس اطلاعاتو ته د لاسرسي برخه کې یو څه پرمختګونه رامنځته شوي، مثلاً خبریالان اوس تر ډیره حکوتي غونډو ته ور غوښتل کیږي او له ورځنیو حکومتي چارو تر یوه حده معلومات ورسره شریکیږي. بلخوا په کنړ ولایت کې بیا د یوه ځایي خبریال او ولایت د مقام ترمینځ رامنځته شوې ستونزه د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې په منځګړیتوب اواره شوه.

## ختیځ زون

ننګرهار، کونړ او لغمان ولایتونو کې سیمه ییزې خپلواکې رسنۍ موجودې دي چې تر اوسه په ټول زون کې شپږ رسنۍ بندې شوي خو نورې هم د اقتصادي ستونزو سره مخ دي او که یې لاسنیوی ونه شي نو د بندېدو لامل به یې وګرځي.

همدا اوس د اقتصادي ستونزو له امله زیاترو رسنیو خپلې ښځینه کارکوونکې څواب کړي او نارینه کارکوونکي یې له معاش او امتیاز پرته کار کوي.

**کونړ:** تېره اوونۍ کونړ کې د پژواک خبري اژانس خبریال قضافي مل په دغه ولایت کې د غلا د پېښو د ډېروالي په تړاو په یو راپورکار کړی و چې د کونړ د والي له لوري په دغه راپور ګواښل شوی و. خو وروسته په کونړ کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې ولایتي همکار فضل الواحد افکاري د کونړ له والي او اطلاعات او فرهنګ رییس سره د موضوع په تړوا بحث وکړ او د هغه په منځګړیتوب موضوع حل شوه.

دغه راز په کونړکې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې همکار د یو شمیر خبریالانو په ملتیا د کونړ والي محمدقاسم خالد سره د خبریالانو د ستونزو په اړهم ناسته وکړه. د کمیټې همکار له والي او نورو مسوولینو وغوښتل چې  د خبریالانو د خوندیتوب، معلوماتو ته د لاسرسي، د بیان ازادۍ ته ژمن پاتې کېدو او ځینو نورو ستونزو د اوارې برخه کې پام او همکاري وکړي. د کونړ والي خبریالانو ته د همکارۍ ډاډ ورکړ خو یادونه یې وکړه په دې دلیل چې اداري ټولې نوې شوي او یو لوی بدلون رامنځته شوی، نو باید یوڅه زغم څخه کار واخېستل شي.

**ننګرهار:** ختیځ کې د افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټې مسوول، د ننګرهار د اطلاعات او فرهنګ له رییس سره په یوه ناسته کې هغه ژمنې تعقیب کړې چې نوموړي له خبریالانو سره کړې وې.

د ننګرهار د اطلاعات او فرهنګ رییس د کمېټې د استازي په هڅه له خبریالانو او د سیمه ییزو رسنیو له مسولیونو سره څه موده وړاندې په یوه ناسته کې ژمنه کړې وه چې اطلاعاتو ته د لاسرسي په موخه به ټولو ریاستونو ته ویاندویان ټاکل کیږي، د سیمه ییزو رسنیو د برېښنا، امنیت او خبریالانو د خوندیتوب ستونزو ته به ځانګړې پاملرنه کیږي.

ددغې تعقیبي ناستې په ترځ کې د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس مننه وشوه چې  له ژمنې سره سم یې مطبوعاتو ته  د لاسرسي په موخه امنیه قوماندانۍ ته ویاند وټاکل شو، ملي امنیت هم د ویاند د ټاکل کېدو لپاره د وړ شخص په لټه کې دی او نورو ادارو  هم ژمنې کړې دي.

دغه راز د سیمه ییزو رسنیو د برېښنا د ستونزې په تړاو چې باید د دوی د برېښنا بلونه ارزانه شي د اطلاعات او فرهنګ رییس وویل چې دغه موضوع به هم له برېښنا وزارت سره شریکه شي.

**لغمان:** لغمان کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د ولایتي همکار په غوښتنه د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس سره یوځای، د غږیزو رسنیو د حالت پوښتنه وشوه.

د دې لپاره چې لغمان ولایت کې د غږیزو رسنیو ستونزې او غوښتنې په ګوته شي د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې دولایتي همکار میرویس خواخوږي او د لغمان ولایت د اطلاعاتواو فرهنګ رییس مولوي عبدالنور رسولي له بیلابیلو غږیزو رسنیو څخه لیدنه وکړه. د رسنیو د مسوولینو خپلې ستونزې لکه اقتصادي او نشراتي برخو کې له پلاوي سره شریکې کړې.

ننګرهار کونړ، لغمان او نورستان ولایتونو کې خبریالان اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې لا هم له ستونزو سره مخ دي.

د لیندی په ۹مه جلال اباد ښار کې د شپې پر دوو بجو د داعش وسله والو او طالب سرتېرو ترمنځ نښته پیل شوه او د ورځې تر نهو بجو یې دوام درلود خو خبریالانو ته د ورځې په ۱۱ بجو معلومات او اجازه ورکړل شوه چې خبریالانو ته د رسنیو د مسولینو له لوري په همدې خاطر ډېرې ستونزې جوړې شوې ځکه ټولنیزو شبکو کې خلکو پوستونه کول او خبریالانو سره معلومات نه شریکېدل. ګڼې داسې نورې پېښې او ستونزې هم د اطلاعاتو نه لاسرسي په برخه کې شته.

## سویل ختیځ زون

**خوست:** په خوست ولایت کې د تیر په څیر اطلاعاتو ته لاس رسی سخت دی، دغه ستونزه په امنیتي او د څارنوالیو اړوند ادارو کې تر ډیره موجوده ده.

که څه هم د نوي حکومت په راتګ سره هیڅ خبریال په دې ولایت کې له تاوتریخوالي سره نه دی مخ شوی خو بیا هم له خبریالانو سره د ځاني خوندیتوب په برخه کې ویره شته.

رسنۍ تر ډیرخوا اوس د مسلکي کارکونکو له سخت کمښت سره مخ دي، ځکه یو شمیر مسلکي کسانو دندې پریښودې او یو شمیر نور یې بیا په لازم ډول خپلې چارې مخته نه شي وړلی.

د نوي حکومت د ډیریو ادارو ویاندویان او نور مطبوعاتي مسوولین له رسنیزو چارو سره نابلده دي، په کار ده چې د افغان خبریالانو خوندیتوب کمیټه او د رسنیو د ملاتړ نورې اداري د دوی لپاره ځانګړې ښوونیزې دورې په پام کې ونیسي.

**لوګر:** یوې چاپیزې رسنۍ ( لوګر جریدې) له درې میاشتې ځنډ وروسته د لومړي ځل لپاره خپل فعالیت پیل کړی او بیا چاپ شوه.

لوګر ولایت کې اطلاعاتو ته د لاسرسي برخه کې د لوګر د اطلاعاتو او کلتور ریاست د مصوونیت کمېټې سره ژمنه کړې چې خبریالانو ته به د اطلاعاتو د ترلاسه کولو برخه کې همکاري کوي او نورې اسانتیاوې به رامنځته کوي.

لوګر ولایت کې د دولتي ویاندویانو همکاري له رسنیو او ژورنالیستانو سره د کمېټې په هلو ځلو ښه شوې ده، د لوګر ولایت اطلاعاتو او کلتور رئیس له کمېټې غوښتې چې ددغه ولایت خبریالانو او د دولتي ادارو مطبوعاتي مسوولینو ته د ظرفیت د لوړاوي ورکشاپونه پیل کړي.

## شمال ختیځ

**تخار:** تیره اونۍ تخار ولایت کې د کمیټې ځایي همکار ددغه ولایت د یوشمیر خبریالانو په ملتیا د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس سره وکتل او د خبریالانو ستونزې او غوښتنې یې له هغه سره شریکې کړې. د تخار ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس له خبریالانو سره د هر ډول همکارۍ او مرستې ژمنه وکړه.

**بغلان:** د تیرې اونۍ د دوشنبې په ورځ د کډوالو سرپرست وزیر بغلان ولایت ته یو سفر درلود، خو د ولایت د مقام ساتونکو لخوا د باختر آژانس خبریال ته اجازه ورنکړل شوه چې غونډې ته ورشي او د وزیر د سفر په اړه رپوټ ورکړي.

## شمال زون

**بلخ :** په بلخ ولایت کې نظر دریو میاشتو مخکې ته، اوس اطلاعاتو ته لاسرسی یو څه ښه شوی دی. اوس خبریالان

AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیته

حکومتي غونډو ته وربلل کیږي. په پراختیایي، اقتصادي، ښاري او کلتوري مجلسونو کې د خبریالانو حضور زیات شوی دی او مسوولین په یو شمیر برخو کې ځوابونه ورکوي. خو تراوسه هم دلته دولتي اداري ویندویان نه لري.

**سرپل :** د سرپل خبریالان د اطلاعاتو ته د لاسرسي برخه کې د اسانتیا غوښتونکي شول. تیره اونی د سرپل خبریالانو او مدني فعالانو ددغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس مفتي محمد عمر سرپلي سره ولیدل او اطلاعاتو ته د اسانه لاسرسي او دغه راز د سانسور لیرې کولو او د رسنیو نشراتو کې د اسانتیاوو غوښتنه وکړه.
د سرپل د اطلاعاتو او فرهنګ رییس اوسنۍ ستونزې لنډمهالي وبللې او له خبریالانو او د مدني ټولني له فعالینو یې وغوښتل چې د خلکو او ټولني پر وړاندې خپل مسوولیتونه په ښه شان ترسره کړي.

**فاریاب :** په فاریاب کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې ولایتي همکار ددغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس سره وکتل او خبریالانو او رسنیو پرووړاندې د شته ستونزو د اوارې غوښتنه وکړه.
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې ولایتي همکار فیروز غفوري له خبریالانو سره د تاوتریخوالو، د خبریالانو د خوندیتوب، اطلاعاتو ته د لاسرسي، د یو زیات شمیر رسنیو د خپرونو د بندیدو، د رسنیو اقتصادي ستونزو او د خبریالانو د وزګارتیا په اړه خبرې وکړې او ددغو ستونزو پر اوارې یې ټینګار وکړ او په دې برخه کې یې د اسلامي امارت د پاملرنې او مرستې غوښتنه وکړه.
د فاریاب ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس مولوي شمس الدین د خبریالانو او حکومت تر منځ د ناستې او همغږۍ په اړه د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې له همکار څخه مننه وکړه او وعده یې وکړه چې خبریالانو سره به د پر وخت معلوماتو د شریکولو برخه کې مرسته کوي او همدا راز به د خبریالانو خوندیتوب ته هم پوره پام کیږي.